هفته نامه آبادي
اباډي اوونيزه
ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
ګڼـــه: ۳۵ | مسلسل نمبر: ۱۲۵
پنجشنبه، د جمادی الثانی۱۳مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال



## محترم مـــلا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان دښمنانو ته؛ د افغانانو صبر نور مه ازمايئ



۲ صفحه

## ملي تداركاتو کمېسيون د شاوخوا ۱.۵ ميليارده افغانيو په ارزښت ۱۱ پروژې منظورې کړې



۲مه صفحه

## د افغانستان لپاره د بديلو سوداګريزو لارو اړتيا



۴مه صفحه



## سرلیکنه

په افغانستان د نړيوالې ټولنې له لوري د بنديزونو ترڅنګ اوس ځينو ګاونډيو هېوادونو هم متې رابډوهلې دي او پر افغانستان يې د ګاونډيتوب، سوداګريزو قوانينو او اصولو خلاف سوداګريزې لارې تړلې دي. موخه يې دا ده چې په دې توګه وکولای شي په افغانستان فشار راوړي ترڅو پـــرې خپلې خبرې ومني. خو دا ځکه ممکنه نه ده، چې اســـلامي امارت په ســـياسي او هم په اقتصادي لحاظ خپلواک دی او اړ نه دی چې د نورو هېوادونو په غوښتنه خپل سياستونه مخ ته بوځي او يا هم د هغوی د هر ډول فشـــار پر وړاندې سر ټيټ کړي. افغانستان دا مهال د مرکزي حکومت په درلودو سره يو خپلواک او مســـتقل هېواد دی. ولې د خپل اقتصاد محوره سياست پر مټ يې هڅه کړې چې د ګاونډيو په ګډون د ســـيمې او نړۍ له هېوادونو سره خپل ســـياسي او اقتصـــادي اړيکي پراخ کړي. اوسمهال افغانستان په يوه يا دوو هېوادونو متکي نه دی، که هغوی وغواړي چې خپلې سوداګريزې لارې وتړي نو افغانستان به له قحطۍ او د توکو له کمښت سره مخ شي. ددې ترڅنګ به يې ســـوداګري ودرېږي او له اقتصادي فشـــار سره به مخ شي. دا يـــوه تېروتنه ده. افغانستان دا مهال د ګاونډيو هېوادونو په ګډون د سيمې له بېلا بېلو هېوادونو سره پراخې اقتصادي او سوداګريزې اړيکې او هم د خپلې سوداګرۍ له پاره بديلې لارې لري. همدا اوس له بديلو لارو څخه د افغانســـتان صادرات او واردات دواړه روان دي. له پاکســـتان سره د سوداګريزو لارو تړل کېـــدو څخه دغه دی تقريبـــا پنځوس ورځې تيرېږي، خو د افغانســـتان په بازارونو کې نه د خوراکي توکو، نه هم د سون توکو او نه هم د وادنيزو توکو په بيو کې لوړوالی راغلی دی. د نړيوال بانک د راپور له مخې د افغانستان صادرات په دا تيره مياشت کې زيات شوي دي. په همدې موده کې د ايران په ګډون د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره د کرنې او ساختماني توکو په برخه کې هوکړه ليکونه لاســـليک شـــول. د تازه ميوو ترڅنګ د افغانستان د وچو ميوو صادرات روان دي.

د هرات سيمه ييز مسوولين وايي چې د روان لمريز کال په لومړيو اوو مياشتو کې د دې ولايت نږدې ۲۰ ميليونه کيلوګرامه وچه مېوه تر شلو څخه ډېرو هېوادونو ته صادره شـــوې ده. دغو هېوادونو کې اتريـــش، بلجيم، کاناډا، هالېنډ، جرمني، امريـــکا، ايران، قطـــر، ترکيه، هند، عربستان او يوشمېر نور شامل دي. د وچې مېوې د دې صادراتو ټول ارزښت ۵۷ ميليونه او ۷۰۳ زره او ۱۹۴ ډالرو ته رســـېږي چې د تېرکال د همدې مودې په پرتله درې برابره زياتوالی ښيي. برعکس چا چې پر موږ سوداګريزې لارې تړلې دي، يانې پاکســـتان هلته په ســـيمه ييزو بازارونو کې اقتصـــادي کړکيچ رامنځته شـــوی. خپله پاکستانۍ ورځپاڼې ددې شاهدي ورکوي چې د دوکانونو ورځنۍ عايد کم شوی او کارګران نور د خپلو کورنيو ملاتړ نه شي کولای. دغه راز د سرحـــدي لارو دوامداره تړل کېدو سره د پاکستان صنعتي سکتور له جدي بحران سره مخ شوی دی. افغانســـتان ته د پاکستان د صادراتو د درېدو سربېره له روسيې او منځنۍ اسيا سره د دغه هېواد سوداګري او ټرانزيټ هم په ټپه درېدلې دي. نو ښه خبره داده چـــې ګاونـــډي هېوادونه يـــو له بل سره د ښـــه ګاونډيتـــوب اصل ته پـــه پاملرنې سره په ســـياسي او اقتصادي لحاظ ښـــه تعامل ولري. هېڅ ګاونډی بايد د خپلو سياسي موخو ترلاسه کولو په خاطر اقتصادي اړيکو ته ســـياسي رنګ ور نه کړي، که نو بيا به په خپل کړي عمل پيښېـــمانه او هم به د مقابل لـــوري په پرتله زياته اقتصادي ضربه او زيان ووينې.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه كـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه ابادي
هفته‌نامه آبادی

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان دښمنانو ته؛

# د افغانانـــو صبـــر نور مـــه ازمايـــئ

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د قوس په شپږمه نيټه د ملي دفاع وزارت اړوند د ځانګړو کماندويي ځواکونو د شپږمې دورې ابتدايي تعليماتو څخه د سلګونه تنو ځانګړو کماندويي



ځواکونو په فراغت غونډه کې ګډون او وينا وکړه. په دې اړه جوړو شـويو مراسمو کې د اسلامي امارت د کابينې يو شـمېر غړو، د ملي دفاع وزارت مسـوولينو او مجاهدينو ګډون کـړی و. د رياســت الوزراء اقتصادي مرســتيال ځانګـړو کماندويي ځواکونو ته په خطـاب کې وويل، د سرحدونو ســاتل، د شريرو عناصرو پر وړاندې درېدل، د اسلامي نظام ســاتنه او دفاع د همدې ځواکونو مقدسه او اســاسي دنده ده. همدارنګه محترم مــلا عبدالغني برادر اخوند د هېواد په دښـمنانو غږ کـړی:« زموږ خاورې او حريم ته دې په بد نظر نه ګوري، نور دې زموږ حوصلې نه ازمايي.» د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، هېڅاتــه اجازه نه ورکوو چې زموږ په خاوره تېری وکړي او مــوږ هر ډول تېري ته ځواب ويونکي يوو. نوموړي وويل، په افغانســتان کې د يو خپلواک اسلامي نظام حاکميت د شــهيدانو د قربانيو پايله ده. محــترم حاجي ملا صاحب زياته کړه، اســلامي امارت د متقابل احترام پر اساس له ګاونډيو او ټولو هېوادونو سره اړيکو ته ژمن دی.

# ملي تداركاتو كمېسيون د شاوخوا ۵. ۱ميليارده افغانيو په ارزښت ۱۱ پروژې منظورې كړې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مــشرۍ د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د قوس مياشتې په ۱۱مه نېټه د ملي تداركاتو کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شــوه. دې غونډې ته ۳۰ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شــوې. پــه غونډه کې لــه هراړخيز بحث وروســته د څه باندې يو ميليارد او ۵۳۸ ميليونو افغانيو په



ارزښــت ۱۱ پروژې منظورې شوې او په ۱۵ پروژو کې بيا يولــړ تعديلونه راغلل. همدارنګه د يــوې پروژې قرارداد فسخه، يوه اعاده او د دوو پروژو په اړه ټاکل شويو کمېټو ته دنده وســپارل شــوه چې د پروژې هــر اړخيزه ارزونه وکړي او پايلې يې د ملي تداركاتو كمېســيون مشرتابه ته وړاندې كړي. په منظور شويو پروژو کې د تخار ولايت د درقد ولســوالۍ يتيم تپې د تحکيماتو نهم لاټ، د غور د هوايي ډګر د ځغاســتليکې ترميم، د کابل نړيوال هوايي ډګر د حفظ او مراقبت قرار دادونو ورکړه،د بغلان د دهنه غوري څه باندې ۱۷ کيلومتره ســړک جوړول، د پکتيکا د زرګرانو ـ ګرديز ښار ســړک جوړول، د شمال ډبرو سکرو امارتي شرکت ته د معدني وســايلو پيرودل، د افغان تور امارتي شرکت د اړتيا وړ موټــرو پيرودل، له قرباغ او مقر څخه ترشــاه جوی پورې د ســب ستېشــنونو جوړول او نصب، د کابل موسهي ولسوالۍ د برق رسونې، ساختماني موادو، نصب او مونتاژ او د دغه ولايت د باريکاب د ۲۲۰ کيلوولټه سب ستېشــن سروې، ډيزاين او تيست شامل دي. منظور شــوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمويلېږي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديٍ



# اخبار اقتصادی هفته

## افزایش صادرات انجیر به بیرون از کشور

وزارت صنعت‌وتجارت از افزایش صادرات انجیر به بیرون از کشور خبر می‌دهد. مسئولان این وزارت می‌گوید که در جریان هشت‌ماه نخست سال ۱۴۰۴ خورشیدی، ۴۳ هزار و ۶۸ تُن انجیر به ارزش ۲۱۴ میلیون دالر به کشورهای مختلف صادر شده است؛ آماری که نشان‌دهنده‌ی رشد قابل‌توجه این محصول در مقایسه با سال‌های گذشته است. به گفته‌ی مسوولان این وزارت، افغانستان ظرفیت بالایی در تولید و بسته بندی محصولات زراعتی، به‌ویژه انجیر دارد و تلاش‌ها برای گسترش صادرات و دست‌رسی به بازارهای جدید هم‌چنان ادامه دارد. مسئولان وزارت صنعت‌وتجارت، می‌گوید: «صادرات انجیر در جریان هشت‌ماه سال ۱۴۰۴ خورشیدی به وزن ۴۳ هزار و ۶۸ تُن و به ارزش حدود ۲۱۴ میلیون دالر صورت گرفته و بیش‌ترین صادرات به کشورهای هند، امارات متحده‌ی عربی، پاکستان، ترکیه، قطر، چین، عربستان سعودی، امریکا، عراق، آسترالیا و برخی کشورهای دیگر انجام شده است.» اتاق تجارت‌وسرمایه‌گذاری، انجیر را از قلم‌های مهم صادراتی کشور می‌داند و تاکید می‌کند که اگر این محصول در داخل کشور به‌گونه‌ی معیاری پروسس و بسته بندی شود، ظرفیت صادرات آن چند برابر افزایش خواهد یافت. اتاق تجارت‌وسرمایه‌گذاری، گفت: «ما باید مراکز بسته‌بندی و پروسس ایجاد کنیم و آن را مطابق نیازمندی‌های بازارهای جهانی بسته‌بندی کنیم.» رییس هیأت عامل اتاق زراعت و مال‌داری، نیز می‌افزاید: «برای افزایش صادرات به کشورهای بیرونی، باید تسهیلات لازم فراهم شود و مطابق معیارهای مارکیت‌های جهانی صادرات داشته باشیم.» این در حالی‌ست که در سال پار خورشیدی، افغانستان بیش از ۱۶۵ میلیون دالر انجیر به کشورهای گوناگون صادر کرده بود. مقایسه‌ی این رقم نشان می‌دهد که صادرات انجیر در سال جاری با افزایش قابل ملاحظه‌ای روبه‌رو شده است.

## امضای تفاهم‌نامه‌های زراعتی میان مسؤلان محلی هرات و تجاران ایرانی

مسوولان محلی در هرات می‌گویند که چند تفاهم‌نامه در بخش زراعت با تجاران ایرانی امضا کرده‌اند. این تفاهم‌نامه ها شامل بخش‌هایی چون کشت لبلبو، جواری و پنبه در هرات، صادرات گوشت و میوه خشک از این ولایت به ایران، ایجاد یک شرکت سهامی میان تجاران افغانستان و ایران و همچنین ارتقای ظرفیت‌های دهاقین کشور می‌شود. رییس اتاق محصولات زراعتی و مالداری هرات، گفت: «توافق کرده‌ایم که شماری از تاجران افغان و ایرانی با هم مشارکت داشته باشند. یک شرکت سهامی ایجاد می‌کنیم تا اعتمادسازی صورت گیرد و بتوانیم نیازهای خود را از جمهوری اسلامی ایران وارد کنیم و در مقابل، محصولاتی را که آنان نیاز دارند، از زراعت هرات به این کشور صادر کنیم.» آمر ترویج ریاست زراعت و مالداری هرات، گفت: «این یک گام بسیار مثبت است و آن را به فال نیک می گیریم. برای مهاجران بازگشته از ایران زمینه اشتغال فراهم می‌شود و در کنار آن، از تجارب و نتایج تحقیقات آنان بهره مند خواهیم شد.» اتاق مشترک تجارتی ایران-افغانستان اعلام کرد که با امضای تفاهم‌نامه‌های جدید، صادرات و واردات محصولات زراعتی میان دو کشور افزایش خواهد یافت. کوروش شجاعی، عضو هیأت علمی و پژوهشی اتاق مشترک تجارتی ایران-افغانستان، گفت: «کمیته‌های مختلف برنامه‌های مربوط به واردات و صادرات را در دو کشور پیگیری می‌کنند و نیازهای هر دو طرف بررسی و ارایه می‌شود. نیاز به حبوبات، گوشت و سایر موارد مطرح شده است که پیگیری خواهد شد و در آینده نزدیک نهایی می شود.» برخی از تجاران ایرانی می‌گویند که این همکاری های دوطرفه در بخش زراعت، در شکوفایی اقتصاد دهاقین هرات تأثیرگذار خواهد بود. هرات از ولایت‌های زراعتی کشور است که سالانه هزاران تُن میوه و سبزی از آن برداشت می‌شود. با امضای تفاهم‌نامه‌های تازه میان افغانستان و ایران، دهقانان امیدوارند که بتوانند محصولات شان را با قیمت مناسب صادر کنند.

## صادرات نه میلیون دالری جلغوزه به بیرون از کشور در هشت ماه پسین

جلغوزه از قلم‌های مهم صادراتی افغانستان به‌شمار می رود و همه‌ساله از کشور به منطقه و جهان صادر می‌شود. وزارت صنعت و تجارت اعلام کرده است که در هشت ماه نخست سال روان خورشیدی، ۶۴۵ تُن جلغوزه به ارزش نزدیک به ۹ میلیون دالر به بیرون از کشور صادر شده است. وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که «جلغوزهٔ سیاه افغانستان طی هشت ماه سال ۱۴۰۴ به کشورهای چین، هند، امارات متحدهٔ عربی، ایتالیا، عربستان سعودی، امریکا، کویت و دیگر کشورها صادر شده است.» جلغوزه افغانستان با داشتن کیفیت عالی، در کشورهای مختلف از جمله چین متقاضیان فراوان دارد. شماری ازتجاران می‌گویند که اگر صادرات جلغوزه از طریق دهلیزهای هوایی افزایش یابد و هزینه انتقال آن کاهش پیدا کند، میزان صادرات این محصول بیشتر خواهد شد. محبوب اللـه محمدی، یکی از تجاران، می‌گوید: «اما چالش هایی که هنوز هم پابرجاست، نبود برنامه‌های نمایشگاهی در اکثر کشورهای جهان، نبود ثبت این محصول افغانستان در برنامه‌های بی‌توبی دیجیتالی جهانی و همچنان صادرات محصولات ما به‌شکل خام به اکثر کشورها، به‌خصوص چین است.» جلغوزه در افغانستان بیشتر از ولایت‌های پکتیکا، پکتیا، خوست، ننگرهار، نورستان، کندز و برخی مناطق کوهستانی شمال‌شرق کشور حاصل می‌شود.



ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اباډي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی



# د افغانستان له پاره
# د بدیلو سوداګریزو لارو اړتیا

زاهد خان

## سریزه

بدیلې سوداګریزې لارې هغه دهلیزونه، بندرونه او مسیرونه دي چې یو هېواد یې د خپلې سوداګرۍ د تنوع، خوندیتوب، سرعت او اقتصادي ګټې له پاره د یوې محدودې لارې پر ځای له څو مختلفو مسیرونو څخه استفاده کوي. د بدیلو لارو هدف دا وي چې صادرات او واردات د ګاونډیو هېوادونو له سیاسي فشار، بندیزونو او ناڅاپي ستونزو څخه خوندي شي او سوداګرۍ ته د دوامدارۍ ودې زمینه برابره کړي. افغانستان چې په وچه کې ایسار هېواد دی، په یوې لارې پورې تړلې پاتې کېدل ورته تل ستونزې جوړوي، نو ځکه بدیلې سوداګریزې لارې د هېواد اقتصادي ثبات له پاره حیاتي ارزښت لري. افغانستان په اوس وخت کې څو مهمې بدیلې لارې لري: لومړی د منځنۍ اسیا لارې چې هوايي، رېل پټلۍ او ځمکنیو دهلیزونو په مرسته د صادراتو له پاره ډېرې مناسبې دي. دویم، د ایران چابهار بندر چې پاکستان بندرونو یوه عملي بدیله لاره ده او د هند، خلیجي هېوادونو او نورو بازارونو ته مستقیم لاسرسی برابروي. درېیم، د لاجوردو دهلیز چې افغانستان د اروپا له بازارونو سره نښلوي. څلورم، د هوايي دهلیزونو شبکه چې افغان صادرات په چټک ډول نړۍ ته رسوي. دا ټولې لارې د افغانستان د سوداګرۍ د خوندي، متوازنې او باورې راتلونکې له پاره مهمې ګڼل کېږي.

## د پاکستان له لورې د لارو بندېدل

د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګرۍ او د لارو تړل اوږد او پېچلی تاریخ لري. له ۱۹۴۷ کال وروسته، پاکستان د افغانستان اصلي ترانزیتي لاره وه او افغان سوداګرو د کراچۍ بندر له لارې خپلې سوداګریزې اړتیاوې پوره کولې. د ۱۹۶۵ او ۲۰۱۰ ترمنځ د افغانستان-پاکستان د ترانزیټ موافقې (APTTA) له مخې د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري روانه وه، خو سیاسي کړکېچ، بې باورۍ او پر فرضي کرښه شخړو له امله پاکستان څو ځله د افغانستان د صادراتو او اموالو پرمخ لارې وتړلې. ډېر ځلې د افغانستان تازه او وچې مېوې او سوداګریز توکي د تورخم او چمن په دروازو کې بند پاتې کېدل، چې میلیونونه ډالر تاوان یې اړاوه. له ۲۰۲۱ وروسته، سره له دې چې سوداګري بیا فعاله شوه، خو پاکستان د امنیتي او سیاسي فشار په توګه بیا بیا لارې تړلې. همدې کړکېچ د افغانستان اسلامي امارت دې ته وهڅاوه چې بدیلو لارو لکه چابهار، منځنۍ اسیا، لاجوردو دهلیز او هوايي دهلیزونو ته ډېره توجه وکړي.

## د پاکستان له لورې د لارو تړلو زیانونه

**۱. اقتصادي زیان او د صادراتو ځنډېدل:**

د افغانستان تازه مېوې، سبزیجات، وچه مېوه او نور صادرات حساس وخت لري. لارې چې وتړل شي، دا مالونه په ډیورنډ کرښه خرابېږي او سوداګرو ته میلیونونه ډالر زیان رسېږي.

**۲. د وارداتو د بیو لوړېدل:**

ځینې هغه توکي چې افغانستان ته د پاکستان له لارې ترانزیټ کېږي، نو د پاکستان له لورې د لارو تړلو له امله په افغانستان کې بیې لوړېږي، ځکه چې د توکو په انتقال کې ځنډ رامنځته کېږي.

**۳. سیاسي فشار:**

پاکستان په تېر کې څو ځله د لارو تړل د فشار وسیله ګرځولې. دا وضعیت افغانستان پر یو هېواد تکیه کوي او د سیاسي فشار احتمال زیاتوي.

**۴. د ترانزیټي انحصار خطر:**

په یوې لارې تکیه کول افغانستان د بحراني حالت پر مهال له بدیلونو بې برخې کوي، چې دا د اوږدمهاله اقتصادي امنیت پر وړاندې ګواښ دی.





# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه
هفته‌نامـه آبـادی


## د بديلو سوداګريزو لارو اهميت

بديلې سوداګريزې لارې د افغانســـتان لپاره ستراتېژيک، اقتصادي او سياسي اهميت لري. کله چې يو هېواد يوازې پر يوې لارې متکي وي، هر سياسي کړکېچ، بنديز يا د لارو تړل په مســـتقيم ډول په ملي اقتصاد منفي اغېز پرېباسي. خـــو د بديلو لارو درلودل د دې ســـتونزو شـــدت کموي او سوداګرۍ ته ثبات ورکوي. بديلې لارې د صادراتو بازارونه ډېروي، لګښـــتونه کموي او نړيوالـــو بازارونو ته د لاسرسي سرعت زياتـــوي. د چابهـــار بندر، د منځنۍ اســـيا لارې، لاجوردو دهليز، رېل پټلۍ، هوايـــي دهليزونه او د ايران – ترکمنستان لارې د افغانســـتان له پاره مهمې بديلې لارې دي، چې د ســـوداګرۍ تنوع تضمينوي. له دغو لارو څخه اســـتفاده د ترانزيټي انحصار مخه نيسي، د سياسي فشار کچه راټيټوي او د سوداګرو اعتماد پياوړی کوي.

همدارنګه، بديلې لارې د ترانزيټـــي عوايدو په زياتېدو، د صادراتو په لوړوالي، د وارداتو په ارزانه کېدو او د صنعت له پاره د موادو په با ثباته رسېدنه کې مهم رول لري. کله چې سوداګري خوندي، دوامداره او رقابتي شي، کورنی توليد هم هڅېـــږي او کاري فرصتونه ډېرېږي. له همدې امله بديلې ســـوداګريزې لارې د افغانســـتان د اقتصـــادي امنيت او اوږدمهاله ودې له پاره ضروري دي.

## پايله

د افغانستان لپاره د بديلو سوداګريزو لارو اهميت يوازې يو اقتصادي انتخاب نه، بلکې يوه ملي اړتيا ده. د پاکستان له لوري د لارو تړلو تکراري تجربې وښـــودله چې د يوې لارې انحصار افغانســـتان له جدي اقتصادي زيانونو، ســـياسي فشارونو، د صادراتو د ځنډېدو، د بيو د لوړېدو او د سوداګرۍ له ګډوډۍ سره مخ کوي. په مقابل کې، د چابهار بندر، د منځنۍ اســـيا دهليزونه، لاجوردو لاره، هوايي دهليزونه او نـــورې بديلې لارې د افغانســـتان له پاره د ثبـــات، تنوع، خونديتوب او نړيوالو بازارونو تـــه د پراخه لاسرسي فرصت برابروي. د دې لارو فعالول نـــه يوازې د ترانزيټي انحصار مخه نيسي، بلکې د صادراتـــو د زياتېدو، د داخلي توليد د ودې، د صنعـــت د پياوړتيا او د ملي عوايدو د لوړوالي لامل هم کېږي. که د افغانستان اسلامي امارت منظم مديريت، ديپلوماتيکې هڅې، د ګمرکونـــو اصلاحات او د خصوصي ســـکتور ملاتړ جدي کړي، افغانستان کولای شي له بديلو لارو په بشـــپړ ډول ګټه واخلي او د يوه خوندي، با ثباته او خپلواک اقتصادي راتلونکي بنسټ کېږدي او پر پاکستان له تکيې ځان وژغوري.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۶۶,۲۵ | ؋۶۶,۲۸ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲۲۶ | ؋۲۲۶ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۰,۵۷ | ؋۰,۵۸ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۷,۱۲ | ؋۷۷,۱۶ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۵ | ؋۰,۸۵ |
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۷۳٤ | ؋۷۳٤ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۸۷,۷۱ | ؋۸۷,۷۵ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۷,۶۵ | ؋۱۷,۶۶ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۸,۰٤ | ؋۱۸,۰٤ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۳۷ | ؋۹,۳۷ |

